هېڅ داسې څوک نشته چې د زړه له اخلاصه پدې خبره ګواهي ورکړي چې له الله جل جلاله پرته بل معبود نشته او دا چې محمد د الله رسول دی، مګر دا چې الله جل جلاله به يې په اور حرام کړي

له أنس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چې: معاذ رضي الله عنه رسول الله صلى الله عليه وسلم پسې شاته په سپرلۍ ناست و، نو ورته يې وويل: «اې معاذ بن جبل» هغه وويل: حاضر يم اې د الله جل جلاله رسوله او ستاسو بلنه مې منلې ده، نو په اوږدلو مې خوشحاله کړه! هغه وفرمايل: «اې معاذه» هغه وويل: حاضر يم اې د الله جل جلاله رسوله او ستاسو بلنه مې منلې ده، نو په اوږدلو مې خوشحاله کړه! درې ځلې، ويې فرمايل: " هېڅ داسې څوک نشته چې د زړه له اخلاصه پدې خبره ګواهي ورکړي چې له الله جل جلاله پرته بل معبود نشته او دا چې محمد د الله رسول دی، مګر دا چې الله جل جلاله به يې په اور حرام کړي»، هغه وويل: اې د الله جل جلاله رسوله آيا پدې سره خلکو ته خبر ورنکړم تر څو يو بل ته زيری ورکړي؟ هغه وفرمايل: بيا به هغوی په همدې تکيه وکړي او عمل کول به پريږدي، بيا معاذ خلکو ته د مړينې پر مهال خبر ورکړ تر څو د علم په کتمان سره ګناهکار نشي.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

معاذ بن جبل رضي الله عنه رسول الله صلى الله عليه وسلم پسې شاته په سپرلۍ ناست و، نو غږ يې ورته وکړ چې اې معاذه؟ درې ځلې يې ورته په تکرار سره غږ وکړ؛ د هغه څه د ارزښت له امله چې ورته يې وويل. او معاذ رضي الله عنه به په هر ځل ځواب ورکاوه چې (لبيک يا رسول الله و سعديک) يعنې اې د الله رسوله ستاسو بلنه مې په پرلپسې توګه منلې ده، او ستاسو په بلنه خوښ يم. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکړ چې هېڅوک داسې نشته چې د زړه له اخلاصه پدې خبره ګواهي ورکړي چې دروغ پکې نه وي چې له الله جل جلاله پرته په حقه بل معبود نشته، او دا چې محمد د الله رسول دی، نو که چېرته پدې حالت کې مړ شو، الله تعالى به يې په اور حرام کړي. نو معاذ رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه غوښتنه وکړه چې خلکو ته پدې خبره خبر ورکړي تر څو خوشحاله شي او زيری پرې ورکړي؟. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ووېرېد چې هسې نه خلک په همدې خبرې تکيه وکړي نو عملونه به يې کم شي. نو معاذ هېڅاته ونه ويېل مګر د مرګ د رارسېدو پر مهال؛ تر څو د علم په پټولو سره ګناهکار نه شي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/10098

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee